UNESCO
United Nations
Educational, Scientific and
Cultural Organization

Organisation
des Nations Unies
pour l'éducation,
la science et la culture

Organización
de las Naciones Unidas
para la Educación,
la Ciencia y la Cultura

Организация
Объединенных Наций по
вопросам образования,
науки и культуры

منظمة الأمم المتحدة
للتربيـة والعلم والثقافة

联合国教育、
科学及文化组织

د رسنيو د خپلواکۍ د نړيوالې ورځې

په اړه د يونسکو د عمومي رئيسې

ايرينا بوکووا

وينا

د ۲۰۱۰ د مې ۳يمه

د رسنيو د خپلواکۍ دغه نړيواله ورځ چې موضوع يې د معلوماتو خپلواکي ده، موږ ته د دې فرصت برابروي، چې معلوماتو ته د لاس رسي د حق په ارزښت وپوهيږو.

د معلوماتو خپلواکي هغه اصل دی، چې ټولنې او دولتونه دېته اړ باسي  چې خلکو ته د معلوماتو د لاس رسي فرصت برابر کړي، يا خپل معلومات له خلکو سره شريک کړي او بايد د عامه پوهاوي د حق پر بنسټ هر هغه څا ته معلومات چمتو کړي، چې اړتيا ورته لري.

د معلوماتو د ترلاسه کولو او پوهېدلو حق د نورو بنسټيزو حقوقو د تامين لپاره لاره هواروي، چې په پايله کې د روڼتيا، عدالت او پرمختګ لامل ګرځي. دغه حق د بيان د آزادۍ د بشپړې مفکورې سره په همغږۍ او ډيموکراسي پياوړې کوي.

دا هم شونې ده، چې موږ د معلوماتو د لاسته راوړلو له حق څخه په باخبره توګه ګټه وانه خلو، خو هر کله چې يوه ورځپاڼه لولو، تلويزيون يا راډيو روښانه کوو او يا انټرنېټ ګورو د لاسته راغلو معلوماتو څرنګوالی په هغو رسنيو پورې اړه لري، چې سمو او تازه معلوماتو ته لاس رسی لري.

په خپلو حقوقو د پوهېدلو په لاره کې ډول ډول خنډونه شته، چې د سرچينو او بنسټونو له کموالي نيولې او بيا تر قصدي خنډونو پورې ګڼل کيږي.

ګڼ شمېر ژورنالستان په داسې چاپېريال کې ژوند کوي، چې له محدوديتونو، فشار او فزيکي سرغړونو او تېريو ډک دی.

تېر کال يونسکو د ۷۷ ژورنالستانو وژنه وغندله. دغه ژورنالستان د جګړو له کبله نه دي  وژل شوي، بلکې دوی هغه ژورنالستان وو چې له بېلابېلو سيمو څخه يې رپوټونه چمتو کول.

زه له ټولو هغو کسانو څخه چې د رسنيو نړيواله ورځ نمانځي غوښتنه کوم، تر څو د يوې دقيقې له پاره چوپتيا غوره کړي، کېدای شي، هغه کسان مو ياد ته راشي چې نور نه شو کولی له دوی سره مرسته وکړو او همدارنګه د هغو ژورنالستانو ستاينه وکړو چې خپل ژوند يې د خلکو د پوهاوي د حق له پاره قربان کړی دی.

اجازه راکړئ چې نن په دې برخه کې د راغلو پرمختګونو ستاينه وکړم.

DG/ME/ID/2010/07 – Original: English

ګڼ شمېر هېوادونو د رسنیو د خپلواکۍ قانون تصویب کړی دی. دا کار به زموږ سره ډېره مرسته وکړي، چې د دولت فعالیتونه وارزول شي او خلکو ته د دولت د حساب ورکونې پروسه پیاوړې شي.

ددې ترڅنګ د ټکنالوژۍ چټکه پرمختیا او د هغوی ارزانه بیه دا مانا ورکوي، چې ډېر خلک له خپل چاپېریال څخه د باندې هغو تازه معلوماتو ته لاس رسی لري، چې پخوا یې نه درلود.

اوس موږ ته ډېر ښه فرصت په لاس راغلی، چې دا پرمختګونه غنیمت وګڼو او خبرې بنسټونه پیاوړي کړو، د ژورنالستانو لپاره د اړتیا وړ زده کړې وړاندې کړو، د رسنیو د خپلواکۍ لپاره د عامه سکتورونو په چوکاټ کې لا زیاته خپلواکي رامنځته کړو او د خلکو د عامه پوهاوي کچه لوړه کړو.

زه له هېوادونو، مدني ټولنو، خبري رسنیو او له ټولو وګړو څخه غوښتنه کوم، چې په ټوله نړۍ کې د معلوماتو او رسنیو د آزادۍ د پرمختیا لپاره زموږ سره یو ځای شي.

ایرینا بوکووا